PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
MINISTRY OF PUBLIC HEALTH OF ISLAMIC REPUBLIC OF AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه رواني ناروغانو او معلولينو ته د روغتيايي خدماتو د پراختيا په موخه 8 ميليونه يورو مرسته کوي

کابل- د 2015 کال د نوامبر 22

نن په افغانستان کي د اروپايي ټولني پلاوي او د افغانستان د اسلامی جمهوريت د عامي روغتيا وزارت په يوه غونډه کي د روغتيايي خدماتو د وړاندي کولو د پراختيا په موخه خپل د همکارئ پر دوام باندي ټينګار وکړ.

اروپايي ټولنه معلولو افرادو او رواني ناروغانو ته د روغتيايي خدماتو د پراختيا په موخه 8 ميليونه يورو مرسته کوي. دغه پروګرام به د راتلونکي 3 کلونو په لړ کي پلئ شي. په دغه موده کي به 400 روغتيايي متخصصين د فيزيوتراپيستونو او رواني سلاکارونو په ګډون د ديپلوم په کچه زدکړي وکړي او د فراغت نه وروسته به په روغتيايي کلينيکونو کي کار وکړي. همدارنګه دغه پروګرام به د يو شمير دولتي بنسټونو څخه ملاتړ وکړي او د رواني ناروغيو او معلولينو په برخه کي د سلګونو روغتيايي کارکونکو پوهه لوړه کړي.

د افغانستان د عامی روغتيا وزير ډاکتر فيروزالدين فيروز وايی: " زه د Handicap International او Health Net International ته د دغو پروژو د لاس ته راوړلو په خاطر مبارکي وايم. زه ډاده يم چي تاسو دغه پروژي به په ښه کيفيت سره داسي پلئ کوئ چي د هغو خلکو ژوند باندي چي رواني ناروغي او يا معلوليت لري ښه اغيزه وکړي. زه همدارنګه د اروپايي ټولني څخه د دي لپاره چي د دغه دوه مهمو موضوګاني باندي د پام وړ بوديجي سره کار کوي مننه کووم. ستاسو ونډه زمونږ دولت او وزارت ته ډير ارزښت لري."

په افغانستان کي د اروپايي ټولني د پراختيايي پروګرامونو مسوول چان ماريتسيو وايی: " په راتلونکي کي د معلولو خلکو او د رواني ناروغانو د تداوي په موخه د مهارتونو رامنځته کولو او د ظرفيتونو د کچې لوړولو ته ځَملاسي اړتيا لیدل کيږي. د اروپايي ټولني او د افغانستان د عامي روغتيا وزارت ترمنځ دغه همکارئ بنسټيز اړتياوي ته به ځواب ووايي او مثبت پايلي به ولري. "

په دغه دوه برخو کي اروپايي ټولنه تر اوسه 25 ميليونه يورو مرسته کړي ده. دغه مرستي د بنسټونو څخه د ملاتړ، د بشری منابعو وده، رواني ناروغانو او معلوليت لرونکي خلکو ته د روغتيايي خدماتو وړاندي کولو په لاره کي لګول شوي دي.

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولني پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

د افغانستان د عامی روغتيا وزارت
د عامه اړيکو څانګه
محمد اسماعيل کاوسی
ټليفوني شمېره: 55 8888 792 (0) 93+
برېښنالیک: mi_kawusi@yahoo.com